AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۹/۱۶

# د نړیوالو بشري مرستو کمېدل

## او د خوارو خلکو کړېدل

### د لوږې څونامي

### شپږدېرشمه برخه



په افغانستان کې د بېکارۍ، بې وزلۍ او فقر کچه لوړه شوې ده ، چې لوړه د همدې حالتونو زېږنده ده.
د لوږې په برخه کې د ټولو شته ستونزو په توره تاریکه کې کله ملګري ملتونه د مرستې وعدې کوي او وايي چې:
له اړو افغانانو سره یې د ژمنیو مرستو پلان چمتو کړی. نور حال په دې ریوټ کې:

«په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره اوچا په یوه ریوټ کې ویلي د دوی څېړنډلو هغه سیمې په ګوته کړي چې خلک په کې د نورو پرتله ډېر زیانمنونکي دي او د ارزونو له مخې یې ۱۳۷ ولسوالیو ته لومړیتوب ورکړي چې له اکتوبر نه تر دسمبر میاشت پورې به په کې بشري مرستې پر خلکو وېشل شي.

تر اوسه دا نه ده روښانه شوې چې په دې ولسوالیو کې کومې شاملې دي، خو یوازې دومره یادونه شوې چې هغه ولسوالۍ په کې شاملې دي چې په ژمي کې د واورو له امله ورته غځېدلې لارې بندېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رپوټ زیاتوي چې دغه لومړیتوب د تېرو کلونو تجربو او په دغو ولسوالیو کې د شته خطرونو په پام کې نیولو سره ورکړل شوی دی. دغه راز ویل شوي چې له دې ولسوالیو وروسته ۲۶۴ نورې ولسوالۍ دي چې بشري مرستو ته د خلکو اړتیا په کې د مینځنۍ کچې ده.

اوچا ویلي په پام کې لري چې د ژمي له رارسېدو مخکې اړو خلکو ته تودې جامې، کمبلې، خوراکي توکي، روغتیایي کڅوړې او نور ورسوي.

د ملګرو ملتونو په وینا په افغانستان کې میلیونونه وګړي بشري مرستو ته په داسې حال کې اړ دي چې طبیعي پېښو لکه سیلابونو او وچکالۍ په څېر حالت هم ځیلي او ترځنګ یې ښځې له کار کولو منع کړای شوي دي. ډېر ځله له بي بي سي په خبرو کې هم ګڼ شمېر افغانان له بې روزګارۍ، لوږې او ګڼو نورو ستونزو سرټکوي...

د اوچا په وینا په افغانستان کې ټول ۲۹ اعشاره دوه میلیونه وګړي بشري مرستو ته اړتیا لري خو دوی د خپل پلان له مخې غواړي چې ۲۱ اعشاریه درې میلیونه وګړو ته بشري مرستې ورسوي او د دې لپاره په ټوله کې ۳ اعشاریه ۲۳ ملیاردو ډالرو ته اړتیا لري.»

او کله بیا داسې حالت هم راځي چې د لوږې ځونامي په مخنیوي کې نړیوال نه یوازې نوې مرستې نه کوي، بلکې خپلې کړې ژمنې هم نه ترسره کوي، هره ورځ بد خبرونه او د مرستو بندېدل. دې څو سرلیکونو ته پاملرنه وکړئ:

بي‌بي‌سي پښتو:

«د خوړو نړیواله اداره افغانستان کې ۲ میلیونو نورو اړمنو خلکو سره خوراکي مرستې بندوي.»

بي‌بي‌سي پښتو:

«د خوړو نړیوال پروګرام: ښایي افغانستان کې د اړمنو کسانو شمېر نور هم زیات شي.»

تاند:

«د خوړو نړیوال سازمان: افغان ماشومان په نهرو ګېډو ښوونځیو ته ځي.»

بي‌بي‌سي پښتو:

«سیف دي چلډرن: له هرو څلورو درې افغان ماشومان د تېر کال پرتله لږ خواړه لري.»

تاند:

«۱۵ میلیونه افغان اړمن د مرستو درېدو خطر سره مخ دي.»

تاند:

«قزاقستان: افغانستان کې لوږه او اقتصادي ناورین د سیمې ثبات ګواښي.»

تاند:
«د جاپان سفیر: د افغانانو ژوند عادي حالت ته ستون شوی، خو ټول په ډوډۍ پسې سرګردانه دي.»

بي‌بي‌سي پښتو:

«بریتانیا خپله بهرنۍ مرسته کموي؛ پر افغانستان ۷۶ سلنه کمېږي.»

تاند:

«سویډن کمېټه: د قرآن سپکاوی غندو، کاربندول مو افغان بېوزلان اغېزمنوي.»

تاند:

«سره صلیب: ډېري افغان کورنۍ خپلې لومړنۍ اړتیاوې نه شي پوره کولای.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بي‌بي‌سي پښتو:

«یونېسف: افغانستان کې ۲۸ میلیونه خلک مرستو ته اړتیا لري؛ نړیوال بانک وايي د 'توکو بيې ښې شوې.»

تاند:

«د خوړو نړیوال سازمان: ۱۵ میلیونه افغانان خوندي خوړو ته لاسرسی نه لري.»

د بي‌بي‌سي په یوه تازه راپور کې ویل شوي دي چې: «د خوړو نړیوال سازمان وايي، د بودیجې د سخت کمښت له امله به روانه میاشت په افغانستان کې ۲ میلیونو نورو اړمنو کسانو سره خوراکي مرستې بندې کړي»

د دې خبر په اورېدو سره خلک سخت اندېښمن شوي دي چې هیلې یې د خوړونړیوال‌سازمان په مرستو پورې تړلې دي. د بي‌بي‌سي په یاد رپوټ کې د خلکو اندېښنو ته داسې اشاره شوې ده:

«له دې سره د هغو اړمنو کسانو شمېر چې دغه نړیوال خیریه بنسټ پرې خوراکي مرستې بندې کړې، لس میلیونو کسانو ته ورسېږ.

په افغانستان کې د طالبانو له بیاځل واکمنی راهیسې په دغه هېواد کې د بې وزلې کچه لوړه شوې چې له امله یې ډېرو اړمنو نړیوالو بشري مرستو پورې د ژوند هیلې غوټه کړې دي.

د کابل ښار اوسېدونکی بابا کریم له بي بي سي سره په خبرو کې وویل، که د خوړو نړیوال سازمان یې د خوراکي توکو په برخه کې لاسنیوی ونه کړي، کورنۍ یې به یې له کړاو سره مخامخ شي:

"هغوی یوازې دوه ځلې له ما سره مرسته کړې ده. هر ځل یې ۳۵۰۰ افغانۍ نغدې راکړې دي. پیسې ډېرې نه وې، خو په کافي اندازه منصفانه وې. له دویم ځل پیسو اخیستلو وروسته یې را ته وویل چې مرسته نوره بنده شوه.

زه ډېر اندېښمن چې څه به کوو؟ له کومه وخته چې د خوړو نړیوال سازمان مرستې بندې شوي، ټوله شپه ویښ یم او د خپلو بچیانو راتلونکې ته اندېښمن یم."»

اوس که نړیواله ټولنه، په تېره خیریه مؤسسې په ریښتیا خپلې مرستې ودروي، نو د هغو میلیونو افغانانو د ژوند مسأله به څنګه شي چې همدا اوس نه کار لري، نه زیرمه لري او...

ایا د نړیوالو له خوا د دې مرستو درول به په افغانستان کې د بشري ناورین لمن پراخه نه کړي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ